# ماشومانو مقدس کتاب
## وړاندې کونکے

# څلويښت کاله



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.





کله چې خدائ پاک بنی اسرائیلیان د مصر نه آزاد کړل. موسی د خدائ پاک په عبادت کښې د خلقو رهنمائی وکړه. هغهٔ د خدائ پاک د لویئ یوه سندره ولیکله. زهٔ به د خدائ پاک د لویئ د پاره دا سنداره وایم. ځکه چې هغهٔ په خپل جلال او قدرت سره مونږ له فتح راکړې ده. موسی د هغه ټولو لویو لویو کارونو د پاره کوم چې خدائ پاک د اسرائیلو د پاره وکړل، سندره ووئیله.





دريِ ورځې پس تږو شوو خلقو ته په بيابان
کښې د اوبو يوه چينه ملاو شوه. خو هغوئ
هغه ترخې اوبه نهٔ شوې څښلے. د دعا
کولو په ځائ باندې خلقو شکايتونه وکړل.
خدائ پاک مهربان وو.

او هغهٔ هغه اوبه د
څښلو جوګه کړې.

3



داسې ښکاريدل
چې خلقو به د
هر يو څيز په
باره کښې شکايت کولو. مونږ سره
په مصر کښې د خوراک د پاره ډير هر
څهٔ وو. او په دې خوشې بيابان کښې خو به مونږ د لوږې
نه مړهٔ شو. نو په هغه ماښام خدائ پاک مرازان راوليږل.
او خلقو هغه په آسانئ سره راونيول.

4



په ورپسې سحر خدائ پاک د آسمان نه من روليږل. د دې نه
به يې ډوډئ پخولې او چې خوړل به دې لکه شاتو په شان
ذائقه به يې وه. او هر سحر به په
زمکه باندې من پراتهٔ وو.

نو داسې خدائ پاک
خپلو خلقو باندې
په بيابان کښې
ډوډئ وخوړله.

5



هغوئ له د روزانه خوراک د پاره په خدائ پاک باندې
بهروسه کول وُ. خو د خدائ پاک د وينا په باوجود چې هغهٔ
فرمائيلى وو چې تاسو ډير خوراک مهٔ جمع کوئ ځکه چې
دا به خراب شى. خلقو ډير
زيات من جمع کړل.

6



نو هم هغه شان په ورپسې سحر د سبت د ورځې نه علاوه
هغه من د چنجو نه ډک وو. بيا په اوومه ورځ خلقو آرام
وکړو. او د تيرې شوې ورځې من يې وخوړل.

7



خدائ پاک په بيابان کښې د
اسرائيلو ساتنه وکړه. هغهٔ
هغوئ له خوراک او اوبه
ورکړې. او هغوئ د
دشمنانو نه
بچ کړل.

8



خدائ پاک بنې اسرائیلو ته وفرمائیل کۀ تاسو زما خبره منئ نو تاسو به زما خاص خلق یئ. خلقو موسی ته ووئیل. چې خدائ پاک څۀ هم وائی نو مونږ به هغه وکړو. هغوئ د سینا د غرۀ په لمنه کښې راجمع شول، او انتظار یې کولو چې موسی خدائ پاک سره خبرې وکړې.

9



موسی په هغه غر باندې څلوېښت ورځ خدائ پاک سره وو. او خدائ پاک لس حکمونه د کاڼو په دوو تختو باندې لیکلی وو. هغۀ موسی ته ووئیل چې زۀ درته څنګه وایم نو خلق دې هم هغه شان ژوند کوی.

10




11




12



کله چې موسی د سینا په غرۀ باندې خدائ پاک سره وو. نو اسرائیلیانو یو ډېر بد قدم اوچت کړو. هغوئ هارون ته ووئیل چې تۀ د سرو زرو یو سخے جوړه کړه او هغوئ د خدائ پاک په ځائ باندې د هغه سخی عبادت وکړو. نو د هغوئ په دې عمل باندې خدائ پاک او موسی خفه شول.

13



کله چې موسی هغه خلق ولیدل چې د هغه سخی مخې ته ګډېدل نو هغۀ هغه دوه تختې په کومو چې لس حکمونه لیکلی وو په زمکه وغورزولې او ماتې یې کړې. او موسی په غصه کښې د سرو زرو هغه بت مات کړو. او هغۀ هغه خلق چا چې د هغه بُت عبادت کولو ووژل.

14

خدائ پاک د کانې هغه دوه تختې
بدلې کړې. هغهٔ موسی له حکم
ورکړو چې یو خیمه جوړه کړه.
یو لویه خیمه چې د هغې څلورو واړو
اړخونو ته باړ لګېدلے وی. هلته کښې به
خدائ پاک خلقو سره وی. هغوئ هلته د
خدائ پاک عبادت کولو.



او وریځې او د اور ستنې
دا ظاهره کړه
چې خدائ
پاک هغوئ
سره موجود دے.



15

کله چې هغوئ کنعان ته نزدې شو، نو موسی دولس
جاسوسان هغه ملک کتلو د پاره ولیږل د کوم چې خدائ
پاک خپلو سره د ورکولو وعده کړې وه.



16

ټولو جاسوسانو په دې اتفاق وکړو چې دا ځائ ښکلے دے.
خو صرف دوؤ کسانو، یشوع او کالب، په دې باندې یقین
وو چې هغوئ د خدائ پاک په مدد سره دا ځائ فتح
کولے شی.



17

نور لس جاسوسان د دې ملک د مضوبوطو
ښارونو او دیوانو په وجه باندې
ویرېدل. او وئیل چې مونږ دا
زمکه نهٔ شو قبضه
کولے. هغهٔ ورته
په غصه کښې
وئیل چې ولې
تاسو هغه لوئ لوئ کارونه هېر
کړل کوم چې خدائ پاک ستاسو د
مصر نه د آزادېدو د پاره کړی وو.



18

خلقو د هغه لسو بې ایمانه جاسوسانو پیروی وکړه. هغوئ
فریاد کولو او واپس مصر ته تلو د پاره تیار وو. تر دې
پورې چې هغوئ موسی
د وژلو کوشش وکړو.



19

خدائ پاک د موسی ژوند بچ کړو. او بیا هغهٔ خلقو
ته وئیل چې تاسو به څلویښت کاله په دې بیابان کښې اخوا
دیخوا ګرځئ. او صرف کالب، یشوع او د دوئ بچې به دې
ملک ته داخلېدو د پاره
ژوندی وی. د چا نه چې
تاسو نفرت کوئ.



20

ځلوېښت کاله

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

هجرت ١٤ ـ ١٥

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ـ"
زبور 130:119






12 60



دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وايې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغهٔ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کهٔ تهٔ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زهٔ ايمان لرم چې هم تهٔ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا٣:١٢